# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

| www.afgazad.com | afgazad@gmail.com |
| --- | --- |
| Political | سیاسی |



یونس نګاه

۰٤ اپریل ۲۰۲۳



یونس نګاه

## د استبداد پر وړاندې د مبارزې د اصولو اړتیا

په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ د تولنیز تړون پر بنسټ د دولت جوړوني لومړنی جدي هڅه وه. دا هڅې په ځلونو وننګول شوې، خو هېڅکله نه ودرول شوې، بلکې هره ورځ په جدي او پراخه توګه مطرح شوې. له یوې زاویې، د افغانستان معاصر تاریخ د یوه ډیموکراتیک او منتخب دولت د جوړولو لپاره زموږ د بریالیو هڅو کیسه ده. زموږ د بریاوو شمېر که له ماتو زیات نه وي، کم خو هېڅکله نه دی. نن ورځ هم په افغانستان کې اصلي سیاسي مقابله د نظام د مشروعیت په سر د دوو لید لورو ترمنځ ده. له هغې جبهې چې تولنیز تړون د اعتبار وړ ګڼي، له یوې پېړۍ په زیاته موده کې په ځلانده تجربې په میراث پاتې دي او هغه کسان چې شریعت، امر یا ولکه د مشروعیت معیار ګڼي، تل په حکومتولۍ، نظام جوړونې او د خلکو د ملاتړ په خپلولو کې له ماتې سره مخ شوي او ډېرې ورانۍ یې پرېښې دي. د طالبانو په ظاهري ولکې به نه غولېږو. دوی د تولنیز تړون د مخالفینو د واکمنۍ تر ټولو بده ننداره وړاندې کوي او که موږ پر تېرو ګټورو او ویاړلو تجربو سترګې پټې نه کړو، د نن ورځې واقعي اړتیا او د سبا د بریا لرلید په جدي توګه په پام کې ونیسو، نو د وحشت کیسه به لنډه شي او بېرته به د ژوندانه لارې ته د ستنېدو فرصت برابر شي. موږ ټول پوهېږو چې د اسلامي جمهوریت په شل کلنه موده کې ډېرې نیمګړتیاوې، خیانتونه او ستونزې وې او د طالبانو پروژه د دغو بدمرغیو یو اصلي لامل وه. خو د هغې دورې اصلي او د دفاع وړ جوهر د خبرو اترو، قانون جوړونې او د تولنیزو تړونونو پر سر د پوهاوي هڅه وه. په هغه مزل کې چې موږ د دې پېړۍ په پیل کې له طالبانو وروسته پیل کړ، ویتېیل شوه چې قانون باید معیار وي او ټولې اړیکې د بشري تړونونو پر بنسټ تنظیم شي. هغه قوانین چې معرفي شول نیمګړتیاوې یې لرلې، ځینې یې کاپي او پروژې وو، ځینې یې شاته پاتې او تحمیلي وو، خو هر څه چې وو، هغه تړونونه سپېڅلي نه وو او د انساني او ځمکنیو اصولو پر بنسټ وو.

اوس له طالبانو سره اصلي مبارزه د حکومتولۍ او سیاست پر اصولو ولاړه ده، نه د طالبانو د اصولو د پلې کولو د تاکتیکونو، وسایلو او لارو چارو پر نقد. که د مبارزې اصول هېر کړو، د طالب په میدان کې لوبېږو او د دې ډلې د

اصلاح پر مبلغانو بدلیږو. د ښوونځیو د بیا پرانیستو، د کار د حقونو د خوندیتوب، د سفر د ازادۍ، د تفریح د ازادۍ او د بیان د ازادۍ لپاره هڅې باید د اصلي مبارزې برخې وي، نه اصلي موخه. ځکه که طالبان دا ټول حقونه بېرته ورکړي، ان که اجازه ورکړي چې د طالبانو د مشر په امر، نه د ترون او قانون پر بنسټ موسیقي او نڅا ازاده شي، نو بیا هم د طالبانو پر ضد مبارزه پای ته نه رسیږي. ځکه چې د ملا هبت الله د ولکې او شرعي پر بنسټ د مشروعیت ترلاسه کولو قاعده غیرمدني او د هغو اصولو خلاف ده چې زموږ په پېر کې یې دولت او سیاست باید پر بنسټ وي. ټولګډونه حکومت، د طالبانو اصلاح او په ملګرو ملتونو کې په رسمیت پېژندل شوی امارت ټول د ډموکراسۍ او ټولنیز ترون په ضد لوري کې راځي او هره هغه هڅه چې د قانوني دولت د جوړولو لپاره زموږ د خلکو له اوږدمهالو مبارزو او هڅو سره په ټکر کې وي، سوله اوکراري به را نه ولي، او د هېواد د ابادۍ او پرمختګ لامل به نه شي، بلکې دا استبداد عمر به اوږدو کړي او ټولنه به د یوې بلې خونړۍ جګړې او مقابلې لور ته بوځي. زموږ د هېواد وروستۍ سل کلن تاریخ د دې شاهد دی چې استبداد به ونه زغمل شي او که قانوني دولت جوړ نه شي، نوې شخړې او کړاوونه به رامنځته شي. د طالبانو د امارت مشروعیت به د جرګې، روغې جوړې، جوړجاړي او بهرني حکم په مټ ترلاسه نه شي او هغه نظام به چې د ولکې په مټ رامنځته کیږي، تل د مقاومت له خطر سره مخ وي او هېواد به تر هغې عادي حالت ته ستون نه شي، تر څو چې قانون د فرمان ځای ونه نیسي. د پوهو او وطنپالو مبارزه کوونکو دنده له طالبانو سره دښمني نه، بلکې د یوه داسې ولسي او ولسواک نظام د جوړولو لپاره درېدل دي چې د تلپاتې سولې د ټینګښت او د هېوادوالو د هوساینې او ازادۍ د تامین لپاره اصول ولري. هره هغه ډله به چې د هېواد د خلکو له دې انساني ارمان سره مخالفت کوي، وننګول شي او په ټول افغانستان کې به دښمنان ولري.